September 12, 2023

# د والدینو او زده کوونکو لپاره معلومات

**زموږ ښوونځی به په دغه مني کې Healthy Youth Survey (د روغو ځوانانو په نظر پوښتنه) کې ګډون وکړي.**

نظر پوښتنه د ټیپ کیدو، د روغتیايي پالیلو او الکول او نشه يي توکو د کارولو خطرونو په اړه پوښتنې کوي. ښوونځي، ایالتي او سیمه ییزې اداري زموږ د ځوانانو د ملاتړ او د هغوی د خطرونو د راکمولو لپاره د نظر پوښتنې پایلې کاروي. Healthy Youth Survey رضاکارانه او بې نومه ده او د هغه پالیسی او پروګرامونو د لارښوونې لپاره مهم معلومات چمتو کوي چې زموږ ځوانانو ته خدمت کوي.

---

پ*ه مهرباني سره دغه معلومات له زده کوونکي سره شریک کړئ.*

*بیا د نظر پوښتنې په هکله خبرې وکړئ او پریکړه وکړئ چې ایا ستاسو زده کوونکی به ګډون وکړي او که نه.*

---

**پوښتنه: له چا څخه غوښتل کیږي چې په نظر پوښتنه کې ګډون وکړي؟**

**ځواب:** په ټول واشنګټن ایالت کې د 6، 8، 10 او 12 ټولګیو زده کوونکي او د ښوونځي په کوچنیو تعلیمي ناحیو کې د 7، 9 او 11 ټولګیو زده کوونکي.

**پوښتنه: ایا دا نظر پوښتنه رضاکارانه ده؟**

**ځواب:** هو! هغه زده کوونکي چې په نظر پوښتنه کې ګډون کوي، کولی شي هر وخت چې وغواړي پوښتنې پریږدي او په نظر پوښتنه کې ګډون کولودروي. که تاسو نه غواړئ چې زده کوونکي مو په نظر پوښتنه کې ګډون وکړي، کولی شئ ښوونځي ته زنګ ووهئ چې ستاسو زده کوونکي معذور وګڼي. زده کوونکي کولای شي خپل ښوونکي ته ووايي چې دوی نه غواړي په نظر پوښتنه کې ګډون وکړي. هغه زده کوونکي چې په نظر پوښتنه کې ګډون نه کوي په یوه بل فعالیت لکه په کتابتون کې مطالعه یا لوستلو کې برخه واخلي. په نظر پوښتنه کې د برخې نه اخیستو له امله جریمه نشته. د زده کوونکي په درجو باندې به اغیز ونه کړي.

**پوښتنه: په نظر پوښتنه کې کومې پوښتنې دي؟**

**ځواب:** د سروې پوښتنې د هیواد او واشنګټن آیالت کې له نظر پوښتنو څخه راټولیږي.. والدین یا سرپرست کولی شي د دوی د ښوونځي له دفتر سره اړیکه ونیسي تر څو د پوښتنلیک یوه کاپي وګوري یا په پوښتنو باندې د www.askhys.net لینک له لارې بیاکتنه وکړي.

یو شمیر موضوع ګانې په لاندې ډول دي:

- معلومات، لکه عمر، جنسیت، نژاد او توکم
- د ښوونځي او ټولنې په هکله احساسات
- له والدینو، ملګرو او ګاونډیانو سره اړیکې
- د خوړلو عادتونه، فزیکي فعالیت
- روغتیايي زده کړې
- د تنباکو، الکولو او نورو نشه يي توکو د کارولو په اړه لیدلوری
- د خودتیوب اړوند چلندونه او احساسات
- د تاوتریخوالي اړوند چلندونه
- جنسیتي هویت (اختیاري او ساده شوې نسخه د 6 او 7 ټولګي لپاره شته ده*)
- جنسي تمایل (د 6 او 7 ټولګي لپاره نه ده)
- جنسي چلند، ناوړه ګټه اخیستنه او استثمار (د 6 او 7 ټولګي لپاره نه ده)

*له زده کوونکو څخه نه غوښتل کیږي چې د خپل جنسیت په اړه راپور ورکړي، مګر دا چې ښوونځي په ځانګړي ډول دا پوښتنه وکړي.

**پوښتنه: د زده کوونکي هویت څنګه خوندي شوی؟**

**ځواب:** HYS ټل رضاکارانه ده او زده کوونکي به خپل نومونه په نظر پوښتنه کې نه ورکوي. له زده کوونکي سره د نظر پوښتنې د سمون ورکولو لپاره هیڅ کوډ یا معلومات نشته دي. له ښوونځي څخه هیڅوک به د دوی ځوابونه ونه ګوري. زده کوونکي به تر بشپړولو وروسته خپلې نظر پوښتنې په محرم ډول وسپاري.

که د زده کوونکو ځوابونو ته غیر مجاز لاسرسی شتون ولري، نو یو څوک کیدای شي د ښوونځي، ټولګي او نژاد/توکم په څیر معلوماتو په کارولو سره د یو ځانګړي زده کوونکي د پیژندلو هڅه وکړي. که څه هم موږ محرمیت خورا جدي نیسو او ډیری ګامونه شته چې موږ یې د زده کوونکو ځوابونو ته د غیر مجاز لاسرسي د مخنیوي لپاره کاروو، تر څو ډاډ ترلاسه کړو چې په نظر پوښتنه کې راټول شوي حساس معلومات پټ یا بې نومه پاتې کیږي. لا زیات معلومات په دې لینک کې موندلی شئ: https://www.AskHYS.net/HYS/HYSInformation

**پوښتنه: د نظر پوښتنې پایلې څه ډول کارول کیږي؟**

**ځواب:** ښوونځي، تعلیمي حوزې، کاونټي او دولتي اداري زموږ پر زده کوونکو د پوهیدو او دوی ته د اړتیا وړ خدمتونو د چمتو کولو لپاره پایلې کاروي. پایلې د پروګرامونو د پلان جوړولو، ارزولو او ورته د ودې ورکولو او د دغو پروګرامونو د ملاتړ لپاره د پیسو ترلاسه کولو لپاره کارول کیږي. همدارز بې نومه معلومات له سیمه ییزو روغتیايي ځانګو، د قبایلي اپیډیمولوژۍ مرکزونو او تایید شوو څیړونکو سره هم شریک کیږي.

**نورو معلوماتو ته اړتیا لرئ؟**

که تاسو د نظر پوښتنې د موخې یا د سروې پروسیجرونو په اړه کومه پوښتنه لرئ:

- 1-877-HYS-7111 وریا ټیلیفون ته زنګ ووهئ
- برېښنالیک healthy.youth@doh.wa.gov

د Healthy Youth Survey په اړه معلومات په www.AskHYS.net کې موندلی شئ.

د) Washington State Institutional Review Board واشنګټن ایالت د اداری بیاکتنې بورډ) د Healthy Youth Survey لپاره پروسیجرونه تایید کړي چې په دغه لیک کې تشریح شوي دي. که تاسو باور لرئ چې دغه پروسیجرونه نه دي تعقیب شوي، نو مهرباني وکړئ 1-800-583-8488 ته زنګ ووهئ. تاسو اړ نه یاست چې خپل نوم پریږدئ. ټول پیغامونه به بیا واستول شي.

**زده کوونکي له 2002 راهیسې Healthy Youth Survey کې ګډون کوید زده کوونکو شمیر یوازې له څو زرو زده کوونکو څخه په کال کې 230,000 ته لوړ شوی!**

---


د دغو معلوماتو بیاکتنې او له خپل زده کوونکي سره د خبرو کولو لپاره مننه!

Healthy Youth Survey *د لاندې دولتي ادارو لخوا بې مالي ملاتړ کیږي:* Health Care Authority *(د روغتیايي پاملرنې اداره) -* Division of Behavioral Health *and Recovery (د چلند روغتیا او بیا رغېدنې څانګه)،* Department of Health (د روغتیا وزارت)، Office of the Superintendent of Public Instruction, and Liquor and Cannabis Board *(د عامه لارښوونو د سرپرست دفتر او د الکولي څښاکونو او چرسو بورډ)*